## جفاوکړي

بیزار له تا نه کیږم که هر څومره جفا وکړي
له مینې دې نه اوړوم که هرڅومره خطا وکړي
څما د ژوند رونق ستا ادا پوري تړلي
ته هم په دي پوهیږي که هرڅومره ریا وکړي
د تا سره رغبت مي محصول ستا د نخری دي
په مینه دی رسوا یم که هرڅومره حیا وکړي
بې تا نه لري «مل» بل شکلې ته نظرهیڅ
پرزړه مي واک نشته که ته هم ناروا وکړي

** جرمنی ۲۰۱۷-۱۰-۱۹

## پټ اسرار

یوځه مي زړه کې ګرځي چي ویلی نشم تاته
له ویلو یې ډاریږم چي په قهر نشي ته ما ته
که په سترګومي نظرکړي په هغه رازبه پوه شي
چي پرما دی شی نظر مخ دی مه اړوه شا ته
دا د مینې علامې دی چي مینوو پرې پوهیږي
ما هم وبله مین خپل جا نا ن راشه مې خواته
ته بیاهم که له غروره په اشاری مي ځان پوه نکړي
مخا مخ زه «مل» وایم چي ما زړه بایللی تا ته

** جرمنی 2017-10-19

## چیری لاړ شو

راځه چي چیری لاړ شومینه پټه سره وکړو
پناه د خلک له سترګو مینه پټه سره وکړو
زنګون کې دی سرکیږدم ځیرو ګورمه تا ته

ستازلفی شی خوری می په مخ مینه سره وکړو
ناخوالی د بیلتون د یوبل په لید و هیر کړو
په سترګو دی نا ز واخلمه پټه مینه سره وکړو
له شونډو دی بوسه په رغبت سره«مل» واخلي
تازه د «مل» شي شونډی مینه پټه سره وکړو
***
جرمنی 2017-10-19

## حسرتونه

رایادیږی می پالنګ کي چي پر هر اړخ را تاویږم
چي مي لاس در نه رسيږي حسرتونو کی ډوبیږم
مینه ستا خوښي را نکړ په غمونو کی اخته کړم
لیونی څیری ګریوان له خپل ځان سره غږیږم
غم ځپلي ناقرار بها ر ونه لید ځواني مي
سرمی ښکته زنګنوکی دبیلتون په اور سوځیږم
ستا نظر هم پر «مل» نشو دغرور په نیلي سپوره
له وصاله دی محروم ستا لید و ته هوسیږم
***
جرمنی 2017-10-24

## مه می بیلوه

هیلی تول مي تر سر کړه ما له ځان مه بیلوه
کړه پلو له مخي ليري نور مي مه ځوروه
د هجران په ترخو ورځوتا پسی مي ډیرژړلي
اوس د ناز اود نخرو په تا ل ښه مي زنګوه
په ډیر مینه راته وکړه ښه پستي پستي خبري
بیا په شونډومي خیل شونډی سرپه سر ګرم لګوه

په ډير مينه او محبت زر بدله مي دنيا کړه
بيا د سترګو په غمزو سره «مل» وتخنوه
*** جرمنی 2017-10-25

## بيګانه

د شرابو له نيشي چي له عقله بيګانه اوم
د بيلتون دهيرولو جام په لاس په ميخانه اوم
پيما ني مي تشول د ساقي په کور ميلمه اوم
له خپل ځان او له دنيا بی خبر او ديوانه اوم
هر شيبه مي يا ديد له ستا مکيزی او اداګاني
په حسرت ستا دوصال پيما نه په پيمانه اوم
هيڅ په مخه مي رانغلي پاتي زړه کي می ارمان شو
له بيلتون نه دی ناراض ګريوان څيری مستانه اوم
**** جرمنی «2017-10-24»

## دمينی اتڼکل

چي په نا ز کله نا کله راته خاندي
دغمونو بړاس له زړه می باسی باندي
هومره څمه په ځړتوکی بی پا ياوه
چي پرتا ولی مين نه اوم لاوړاندي
په رينتيا چي بی همتا يي په خوبانو
هغه وخت چي کرښمی په مينه کاندی
«مل» دی هسی پخپل ځان مين کړي
چي بيلتون کی دی له پاسه غورځم لاندي
*** جرمنی 2017-10-28

## آب وتاب

چې وتړل مې لاس شو ستا د زلفو په طناب
له هغې ورځ رانه لاړهم شرم او هم ارعاب
نظر چې مې دستا په نرګسی سترګې پریوت
رغبت مې شوبوسي ته ستا له شونډوپه شتاب
نژدی مې کړ ځان تا ته په پلمو اوبهانی
د مینی له جذبی نه دي شم ډیره بیتا ب
په انکار د میني ولویدم د ستا په کرشمو کي
ځواني کي وی د مینی اراده ډیر بی حساب
زه هم «مل» په ځواني یار د ستا شم شکار
له ماچي لیری کیږي رانه وړي ټول آب وتاب

***

جرمنی 29-10-2017

## فال وګوره

په ارغوي مي فال ګوره چي پرچا مي زړه ورکړي
یوه ښکلي مي زړه وړي ورته حا ل نشم ویلي
چي مي مخي ته هغه راشي په خولوکي خپل ډوبیږم
چي پناه مي شي له سترګوورپسي مي سترګي ژاړي
اوس هغه رانژدي دي په اورغوي مي لاس ایښي
زه د زلفو یی تر سیوری یمه اوس راپریوتلي
ها فال بین خو ته یی چي مي فال اوس راته ګوري
د زړه راز درته وایم «مل» پر تا زړه بایللی

***

جرمنی 30-10- 2017

## خندا

خندا چي يی پرشونډو په ليد و مي توکيدلی
پرما نه پوهيدل چي ما زړه وه پری ورکړي
منګي يي پر اوږه په نخرو ګودر ته تلله
په لاره د ګودر کی ما چي کله هغه ليدلي
پر هر پل مي د هغي خپل پلونه ايښودل
دهغي په انکار دميني کی صورت سوځيدلي
نژدی مي دهغي ننداری پټ پټ کوله هغي
چي په ډير ناز «مل» وربل کي لاس وهلي

****

جرمنی1-11-2017

## توده مينه

راپرېږده چي ښکل کړم ستا شونډی په مزه
چي نه راځي ځواني بيا له سره دوباره
له شونډو دی خوله راکه چي تنده می شی مات
تا خپله آشنا مخکي ما ته کړي وه وعده
زه کله چي تا وګوروم بوسي ته مي رغبت شي
چي وچي شونډی خپل دی په شونډ وکړم تازه
په زړه مي واک نشته چي خپه نشي له «مله»
ځواني کي هوسونه وي ډير ميني ته توده

*

جرمنی*2-11-2017*

## مزه نشته

له تا چي می زړه نه صبرېږی واک مي په زړه نشته
بيلتون کی چي دی ژاړم اختيا ر می خپله نشته
د ستا د مينی اور په ګو کي مي لمبي کړي

بی تا می په زړه د بل چا دمینی شور له سره نشته
نظر چي می د ستا په نورانی مخ کله ولویږي
هوس می ستا بوسی ته دبل ښکلی هیڅ په کره نشته
خوبان که څومره ډیر دی خو ته بی مثا ل یی
بی تا د سرو شونډو و د بل شونډو مزه نشته

***

جرمنی 4-11-2017

## له دی غمه مرم

چي کله مي رایاد شي لاری دی څارم
بیلتون کی دی بیواکه په لپو لپو ژاړم
پرما دی هیڅ له سره ترحم ودی نکړ
د هجرترخی ورځی پخپل ګوتو را شمارم
راتلي دی نشم خواته چي رازمي افشا نشي
بی تا داسی ژوند زه هیڅکله نه غواړم
د ستا له بیغوری نه په خیالاتو کي ډوبیږم
رنځا ستا د مخ نشته خپل لاری ورکوم
یوځلی خو په مینه ځما خواته راشه
نورزغم په«مل»کي نشته له دی غمه خودمرم

***

جرمنی 5-11-2017

## لید نه

آواز د راتګ دی مي هیلی زیاتوی
له یاد می دبیلتون ترخي ورځی هیروی
خمار خمار کتل دی له یاده مي نه ځی
دمینی جذ با ت دی می له سره پاروی
پستی خوږی خبری دی الهام د محبت

د ستا د پیغلتوب کرشمی را یادوی
پرغاړه دی امیل په وربل کی دی ګلونه
هوس ستا دبوسي می له زغمه غورځوی
دستا له دیداره «مل» هیڅوخت نه مړیږی
ګدا سترګی ځما تا هر چیری لټوي
***
جرمنی5-11-2017

## دمینی رسوایی

تا پسي مي چي په چیغو ژړل
کلیوالو هر یو ډیر پرما خندل
رانه تللی وه تول شرم وحیا
چي دستا نخری می مخامخ لیدل
مینه ځما تا سره دومره وه رسوا
ځوانان څه چي کوچینان هم پوهیدل
په کوڅه کي دی چي کله ښکا ریدمه
د کوڅی خلک پرما را تولیدل
هریو ځان سره ویل «مل» لیونـي دي
ما چي کله ستا د کور خواته کتل
***
جرمنی 2017-11-08

## تمنا

چي دی مینه مي په زړه کي راپیدا شو
هغه وخت وه چي نظر دی یار پرما شو
ستاشهلا سترګی چور له حاله ویروم
چي په سرو نازکي شونډی دی خندا شو
ګوتی ویی مي وړپه غاښ ماچي تا ولید

هغه وخت چي ستا دښکلی مخ رڼا شو
زړه اوس ستا د مینی کوربه شوی
تمنا د «مل» آشنا ستا په خوا شو
***
جرمنی 2017-11-08

## فرهاد او شرین

فرهاد مي وګڼه په خپل مینه شرینه
چي غر سوری کوم له شوقه دی په مینه
جذ به ستا د میني قوت بخښلی ما ته
دا ته چي په خوبانو یی ډیره نازنینه
جوړه دی نه وینم د ښکلو په محفل کي
سپوږمي له تا شرمیږي ښکلی ماه جبینه
دیدار نه دی هیڅکل ه له سره نه مریږم
له ما چي جدا کیږی په زړه کیږم غمګینه
ستامینی ته د«مل»نیت ډیرپه اخلاص دی
پر«مل» دخپلي میني یاروکړه پرزوینه
***
جرمنی 2017-11-11

## انتظار

د کوره را وځه زر راځه د ګودر خواته
په لاره د ګودر کي په انتظا رولاړیم تاته
راځه چي په دیدار سره مینه خپل تازه کړو
زه تا ته په ځیر وګورم اوته په مینه ما ته
پلمي مور ته دی جوړ که راشه بیا ګودرته
وعده د خلوت راکه حال مه وایه هیچا ته
خلوت کي سره دواړه مرکي په مینه وکړو

له شونډی بوسه راکه زلفی واړوه شا ته

***

جرمنی 11-11-2017

## دمینی الهام

الهام ستا د میني په وفا سره دی راغي
هوس می تا ته ډیر نا ز وادا سره دی راغي
په زړه مي ستا میني ته له وخته دا ارمان وه
درخواست می د یاری په رضا سره دی راغي
ما داسی انګیرل چي درخواست می نه مني
اوس خوښ یم چي ځواب دی امنا سره دی راغي
وعده می درسره دي له تا نه په شا کیږم
د «مل» باور پرتا په رینبتیا سره دی راغي

****

جرمنی 19-11-2017

## طبیب شه

پرما له ځانه ګرانه خوښی دی زر نصیب شه
بیمار ستا له عشقه علاج ته مي طبیب شه
ما هیله د خپل ژوند تول تا پوري تړلي
مه پریږده مي یواځي اشنا را ته قریب شه
د خپل د مینی رمز دی ځما په سترګو ګوره
بی تا حبیب مي نشته ته ځما دزړه حبیب شه
غوټي ستا د میني په سینه کی مي څیرلی
په مینه ګوره «مل» ته په څټ د رقیب شه

***

جرمنی 20-11-2017

## بیلتون

له ما چي بیلیدلي اوښکی نه مي دریده
په لپو لپو اوښکی مي له سترګو څڅیده
***

نژدی چي درسره اوم په خپګان نه پوهیدم
دیدار ځنی دی هیڅکله اشنا نه مړیدم
بی تا مي په نور ښکلو سترګی هیڅ نه غړیده
په لپو لپو اوښکی مي له سترګو څڅیده
**

د تا سره چي کله ځما مینه پیدا شو
بی تا د بل چا مینه پرما ناروا شو
له یاده مي ستا ښکلي مخ هیڅوخت نه هیریده
په لپو لپو اوښکی مي له سترګو څڅیده
**

غمزو سره دی ولګول زړه کي مي اور
پیدا شو ستا د مینی سره زړه کی مي شور
بیلتون کي زړه د «مل» درپسی و کړیده
په لپو لپو اوښکی مي له سترګو څڅیده
****

جرمنی 22-11-2017

## یادونه

چي کله شم یواځی پیغلتوب ستا مي یادیږی
ستا د بنګړو شرنګ اوپایزیب دی می یادیږی
هغه شیبی می یاد شی چي لیدل مو ګودرکی
مسکا ستا د شونډو معصومتوب دی مي یادیږی

یو بل ته چي په مینه سره پټ پټ موکتل
پرتا چي مي زړه ورکړ مینتوب می خپل یادیږی
لا تر اوسه د «مل» له یاده نه یی وتلي
هغه صحنی د مینی حتی خوب کی می یادیږي
**
جرمنی 2017-11-24

## جلوه

بی بنګ چي مستید مه اشا ری وه ستا له خوا
له حا له چي خپل تلمه کرشمي وه ستا له خوا
تنی دی وه را خلاصه مخا مخ چي دی کتل
ځما د زړه شکار ته بها نی وه ستا له خوا
د ښکلو د مینی سره نه اومه هیڅ روږده
پرتا چي مي زړه ورکړ انګیزی وه ستا له خوا
اوس زړه د«مل» له مینی ستا نشي صبرید لي
پرځان چي دی مین کړم لوڅ جلوی وه ستا له خوا
***
جرمنی 2017-11-24

## غزل لیکلی نشم

بی د مینی ستا غزل لیکلی نشم
هر یو ښکلی ته دلبر ویلي نشم
زړه می ستا دپاکي مینه کوربه شوی
په دی کور کی بل میلمه منلي نشم
دتندی خال دی محراب می دسجدی دي
بل محراب کی هیڅ سجدی کولی نشم
ستا له سترګو یار دمینی نور اوریږی

د بل چا سترګی ته ځیر کتلی نشم
ما «مل» زړه په اراد ه تاته درکړي
د بل چا په زلفو لاس تړلي نشم

**

جرمنی24-11-2017

## سوزاوګداز

په بیلتون کی دی وصال ته نیاز وینم
اراده مي ستا یا ری ته مجاز وینم
ستا له مینی زړه نشم صبرولی
محبوبیت می تا سره دخپل راز وینم
خدای ستا له مینی زړه می فارغ نکړي
ستا په عشق کی تل دخپل اعزاز وینم
مړی او ژوند مي تول تا پوري تړلي
په فراق کی دی سوز او ګداز وینم

***

جرمنی 2017-11-28

## شکارکړ